مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۱/۱۱/۰۹

# لویه تلوسه

## نهمه برخه

## د اوبو بین المللی قوانین

### دوهمه برخه

### لومړی فصل

**د اوبو لټون**

لکه د ډېرو نورو هیوادونو په څېر، قانون په ایران کې هم، د اوبو استحصال او په اوبو او اوبه زیرمو مدیریت د بریښنا او انرژۍ وزارت برخه ګڼلی ده. زمونږ د ویپو(لغت) په قاموس کې هم او د نړۍ کې د ژبو د ویپو په بیلابیلو فرهنګونو کې، اوبه څو نورو ویپو (کلماتو) سره داسي ترکیب او نغښتي دي چې سره بیلول یې ډیر ستونځمن کار دَی لکه اوبه بریښنا، اوبه او هوا ، اوبه او آبادي(۱۱)

(۱۱) ـ شاید په یوازینی ژبه کې چې اوبه + یارۍ= آبیاری شوی دي ، فارسي ژبه وي. د ایران په څېر د لږو اوبو خاوند په یوه هیواد کې له ملتیا( مددیاري) پرته اوبه د کرکیلي څمکې ته نشو رسولای. همدې کبله د آبیاری کلمه اوبو ته اړمن خلکو چې د یاری فرهنګ د هغوی له وینو سره ګډ شوَی دَی د اوبو + یاري د دوو کلمو په ترکیبولو سره آبیاری جوړ کړې ده . د آبیاری مفهوم IRRIGATION کلمې معادل نشو بللئ . د آبیاری کلمې تر شا ټولنیزه ملګرتیا او ټولنیز جوړښت او مشارکت پراته دي . د میرآب کلمه = میر+ آب کې هم همدغه د ټولنیز جوړښت، او د حکومتي سلسله مراتبو جوړښت او د قدرت مفاهیم رانغښتي دي. میر = امیر د واکمن یا حاکم په مانا ده. په حاکم کلمه کې چې څومره مانا نغښتي ده د میر په کلمه کې هم نغښتي ده. زمونږ په تاریخ کې د میر کلمه د پادشاه کلمي سره برابره پاتي شوي ده ) .

که اوبه د انرژۍ وزارت برخه ده ، لکه د نړۍ ستر او پر مخ تللي هیوادونه د انرژۍ په لټه کې دي مونږ هم باید ده چې د انرژۍ په لټه کې واوسو. د انرژۍ منشاء کیدای شي نفت، او ګاز،، اتم ، باد ، آب او... وي. د ۱۹ میلادي پیړۍ له منځنیو څخه رادېخوا لوی شرکتونه د انرژۍ په لټون کې د خپل هیواد له پولو د باندې ووتل د قرارداد له مخې یا بغیر له قرارداده په نورو هیوادونو، سیمو او نورو لویو وچو کې د نفتو او غازو په لټون کې دي. مونږ هم باید د ډېرو لویو شرکتونو خاوندان وو چې د دولت له ډیپلماټیک او سیاسي ملاتړه برخمن وي او په نړۍ کې د اوبو په لټون کې وي. خوړې اوبه هیواد لپاره د سر خبره ده او په راتلونکې کې به نړۍ لپاره لومړی او اساسي خبره وي. د ایران ډیپلماسي باید د اوبو په لټون کې وي. دغه ډیپلماسي په دوو ستنو ولاړه ده :

۱ – ایران ته د ننه له ایران څخه د باندې اوبو راوړل او رالیږدول.
۲ ـ ایران څخه بهر د اوبو او د اوبو د تاسیساتو او د اوبو د صنعت په مهمو سرچینو پانګونه او اقتصادي- مالي ـ مدیریتي او سیاسي ـ امنیتي او ټولنیز تسلط.

یاني ایراني لوی شرکتونه باید په ټولو قارو کې په اوبیزو سرچینو کې ونده ولري. په بندونو کې، شبکو، چینو کې، د سهیل قطب په کنګلونو کې د سیندونو په لیږد رالیږد کې، د اوبو په خوړولو او د څښاک وړ په ګرځولو کې، د اوبو په چاڼځایونو کې د ککړو اوبو په چاڼولو کې او.... باید پانګونه وکړو او ګټه تر لاسه کړو او د کرکیچ سر راپورته کولو په صورت کې اوبه او یا کنګل په هره ذریعه ایران ته راوړو. د ایران د اوبو شرکتونه په هماغه توګه چې نړیوال نفتي ـ غاز او د کانونو شرکتونه په نورو هیوادونو کې فعالیت او ونده لري، نړیوال ډګر کې فعالیت وکړي.

**ایران ته په نړیواله کچه د خوړو(څښاک) اوبو رالیږدونه**

ایران ته په نړیواله کچه د خوړو(څښاک) اوبو رالیږدونه کېدی شي د جغرافیه یي حوضي په چوکاټ کې تر سره شي. باید د بهرنیو چارو وزارت، د بریښنا وزارت او د سوداګرۍ وزارت له همدې مهاله داسي جوړښت رامنځ ته کړي چې په دغو سطحو کې په کار لګیا شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**پولیز سیندونه**

دغه سیندونه په دوو برخو ویشل کیږي:

۱ - ۱ - هغه پولیز سیندونه چي له یوه یا څو هیوادونو سره د ایران پوله جوړوي. او ایران دغو هېوادونو کي اوبو برخه لري. لکه هلمند هریرود، اترک، ارس او اروند رود.

۲ .۱ - هغه سیندونه چي یوازی وروستنی برخه يې ایران سره ګډه پوله جوړوي. او عملي توګه مونږ هلته یوازې ګډه پوله کي نور تعریف شوي حقوق نلرو. لکه دجله او فرات چي ایران یوازې اروند رود برخه کي هغه سره ګډه پوله لري.

**هغه سیندونه چي پوله نه جوړوي:**

دغه سیندونه هم په څو برخو ویشل کیږي:

۱ـ ۲ . هغه سیندونه چي ایران ته یې د اوبو رالیږدول شوني دي، لکه آمو سیند، سیر دریا، ایرتیش، اَب، ولګا سند،سایبریاسیندونه، هند او ....

۲ . ۲ هغه سیندونه چي اوسنیو شرایطو کي یې د اوبو رالیږدونه شوني نده او بیخي غیر اقتصادی ده لکه دانیوب، راین، د افریقا سیندونه او د لاتینی امریکا سیندونه.

**د خوږو اوبو نورې سرچینې:**

۱. ۳. د جنوب قطب یخونه / کنګلونه

د سُهیل قطب یخونه په نړی کي د خوږو اوبو یوه ډېره مهمه سرچینه دی. زمونږ سهیلي سواحلو ته د جنوب قطب د یخونو د لویو ټوټو د رالیږدوني امکان شته.

۲ . ۳ په نړی کي د کاني اوبو مهمي چیني

۳. ۳ . ځمکي لاندی اوبه او کارستي اوبه

۴. ۳ د طبیعي او مصنوعي خوږو اوبو بحیرې

**د اوبو سرچینو ته لاسرسی باید د دوو عمده موخو له مخي ترسره شي:**

۱ – ایران ته د اوبو لېږدوني لپاره د اوبو سرچینو ته لاسرسي؛

۲ – د حقابې د اوبو صنعت د تاسیساتو ترلاسه کولو په زمینه کي د ایران د پانګي اچوني، ګټي او سیاسي - فرهنګي او اقتصادي نفوذ غځولو.... لپاره د اوبو سرچینو ته لاسرسي.

**ایران ته د اوبو لېږدوني لپاره د اوبو سرچینو ته لاسرسي**

رودونه د جغرافيې او قلمرو نظره په دوو برخو ویشو:

۱ – د پولي سیندونه/ پولیز سیندونه

۲ – هغه سیندونه چي په یوه توګه په سرچینه او یا په پای برخه ( د توپېدو خوله) کي ایران سره ګډه پوله لري او مشترکات لري. لکه د دجلی او فرات دوه رودونه چي اروند رود ته توییږي.

د ایران او ګاونډیو هیوادونو ترمنځ پولېز ( پوله جوړونکي) سیندونه






افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په سیمه او د ایران په شاوخوا کې مهم سیندونه



د مرکزي آسیا او د قفقاز مهم سیندونه




نوربیا

**دویم فصل**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ